د افغانستان اسلامي جمهوریت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټیوټ

پښتو لهجوي قاموس

دریم ټوک

(کابل، پروان، کاپیسا، میدان وردګ، غزني)

مهتمم: څېړنوال زکریا ملاتړ

کال: ۱۳۹۶ ل

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

پښتو لهجوي قاموس

دریم ټوک

(کابل، پروان، کاپیسا، میدان وردک، غزني)

مهتمم: څېړنوال زکریا ملاتړ

کال: ۱۳۹۶ ل

بسم الله الرحمن الرحیم

پښتو لهجوي قاموس (دریم ټوک)

(کابل، پروان، کاپیسا، میدان وردک، غزني)

مهتمم: څېړنوال زکریا ملاتړ

خپرندوی: د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، پښتو انستیتوت

چاپکال: ۱۳۹۶ ل/ ۲۰۱۷ ز

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کمپوز او ډیزاین: اکمل بها

چاپځی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

د چاپ ټول حقوق د افغانستان د علومو اکاډمي سره خوندي دي.

د سرخبرې

مخکې له دې چې د پښتو د لهجوي قاموس په اړه څه ووایو مناسبه ده چې د قاموس په باب څو لنډو ټکوته نغوته وکړو:

قاموس عربي کلمه اوجمعه يې قواميس ده. لغوي معنايې سيند، د سيندمنځ، د سيندتل، د سيند ژورځای او لوی سيند ده اوپه اصطلاح کې د لغاتو تدوين شوي کتاب ته وايي يعنې قاموس په حقيقت کې د يوې ژبې د لغتونو ټولګه ده. په انګرېزي ژبه کې د قاموس معادلې کلمې (Dictionary) او (Vocabulary) دِي.

قاموس هغه کتاب ته وايي چې په هغه کې د يوې ټاکلې ژبې کلمې چې په عمومي ډول د الفبا په ترتيب سره تنظيمېږي، راغلې وي او د دغو کلمو معناوې په کې بيان شوې وي. همدارنګه هغه کتاب چې په هغه کې د يوې ژبې د کلمو د يوې يا څو خارجي ژبو معادلې او مترادفې کلمې راغلې وي، هم قاموس بلل کېږي.

دغه رنګه قاموس هغوکتابونو ته هم وايي چې په هغه کې د يوې ټاکلې علمي، فني يا مسلکي رشتې اصطلاحګانې د الفبا په ترتيب سره تنظيم شوې وي اوپه يوه مناسبه طريقه اوميتود سره د هغوی په اړه تعريفونه او توضيحات ورکړل شوي وي. اويا په بهرنۍ ژبه د هغوی معادل ورسره راوړل شوی وي. په قاموسونوکې د يوې ژبې پراصلي لغاتو سربېره مستعار، مترادف، دخيل، متضاد، اشتقاقي اوترکيبي وييونه راتلای شي. قاموسونه بېلابېل ډولونه لري لکه: تشريحي، يو ژبی، دوه ژبی او څو ژبی، خو څرنګه چې آره موضوع لهجوي قاموس دی نو ځکه د غه بحث نور نه اوږدوو.

د يوې ژبې قاموس هماغومره اهميت لري، په کومه کچه يې چې د هغې ژبې ګرامر لري.

دا یوه جوته خبره ده چې د نړۍ ژبې، لهجې اولهجوي توپیرونه لري، خو د دوی ترمنځ غټ توپیر دادی چې ځینې ژبې لږې اوځینې ډېرې لهجې لري.

په یوه ژبه کې د لهجو رامنځ ته کېدل، بېلابېل لاملونه لري چې موږ دلته پرې نه غږېږو خو هغه څه چې په اړه یې څه ویل اړین دي، هغه په ژبې پورې اړوندې لهجې دي.

لهجه د یوې ژبې ځانګړی فورم دی چې په یوه ځانګړې جغرافیایي سیمه کې ویل کېږي، ګرامري جوړښت او لغتونه یې له معیاري ژبې سره توپیرلري.

دا یوه طبیعي خبره ده چې د انساني ژوند له تحولاتو سره سم په ژبه کې هم بدلون منځ ته راځي چې ټولنیز تحولات د ژبې په ستره لمن کې خپلې اغېزې ښندي، دا په دې معنا ده چې ژبه له ټولنې سره ټینګې اوپخې اړیکې لري. دا اړیکې دې ته زمینه برابروي چې د وخت په تېرېدو سره د ژبې په لهجوکې هم تغییر راشي اوهغه پرګنې چې بېلابېلې لهجې کاروي یوې معیاري ژبې ته مخه کړي، پردې بنسټ لهجوي پانګه خپله لمن رانغاړي او د پراخوالي پرځای د تنګوالي پرلورې پل ږدي، په دې معنا چې د لهجې کارونې پرځای معیاري ژبه رامخې ته کېږي. دا کار که له یوې خوا په لیکنه کې ګډوډي له منځه وړي نو له بلې خوا ځینې لهجوي توکي او عناصر هم له هېرېدو سره مخامخ کوي. همدا لامل دی چې ژبپوهان هڅه کوي چې لهجوي قاموسونه ولیکي چې د یوې ژبې د اړوندو لهجو لغتونه او اصطلاحګانې له ورکېدو څخه ژغوري. دا کار که له یوې خوا د ژبې زېرمې له ورکېدو ژغوري نو له بلې خوا د اړوندې ځانګې مینه والو، ځانګوالو پوهانو او ګرامر لیکونکو ته ور مواد په لاس ورکوي.

نېروالو دا کار ډېر پخوا پیل کړی دی او اوس هم د ورته چارو په ترسره کولو بوخت دي. باید ووایو چې دا اودې ته ورته علمي چارې اکاډمیک اوعلمي مرکزونه ترسره کوي، همدې اصل ته په پاملرنه د افغانستان د علومو اکاډمۍ وېتېله چې د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت باید دې درانه کارته اوږه ورکړي. د پښتوژبې او ادبیاتو انستیتوت د همدې پرېکړې پربنسټ دغه غوښتنه ومنله اوعملاً یې کارپیل کړ، د دې انستیتوت استادانو او پوهانو لومړی سهیل ختیځو اوختیځو ولایتونو ته رسمي سفرونه وکړل، په ترخو او ترینګلو شرایطو او ډېرلنډ اوتنګ وخت کې چې هېڅ ډول اړین امکانات یې په واک کې نه وو، په کلو او بانډو کې یې د ژبنیو توکو د راټولولو چارې پیل کړې، څومره یې چې له لاسه کېدل هماغومره مواد یې راټول، کار یې پرې وکړ او د چاپ لپاره یې چمتو کړل، موږ دا نه وایو چې زموږ دا کار به نیمګړتیا ونه لري، ځکه چې وایي ((که غواړې بې عیبه لیکنه وکړې نو هېڅ به هم ونه لیکې)) خو د خوشحالۍ خبره داده چې د پښتو ژبې اوادبیاتو د انستیتوت څېړونکو او پوهانو د یوه

خپرنې لړۍ پیل شوه.

ډېر مهم او اړین کار بنسټ کېښود، هغه دا چې د دوی له خوا د لومړي ځل لپاره د پښتو لهجو د راټولولو او خپرنې لړۍ پیل شوه. د یادونې وړ ده، چې د پښتولهجوي قاموس پرمختیایي پروژه په ۱۳۹۰ لمریز کال کې پیل چې مالي امکاناتو او امنیتي شرایطو ته په کتو سره به د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې هم په اوږد مهال کې ترسره شي.

د دې لهجوي قاموس د موادو په راټولولو کې سربېره پر سیمو د پښتنو سترې قبیلې هم په پام کې نیول شوې دي. قاموس په الفبايي سیستم ترتیب شوی او د هرې کلمې تلفظ په فونیمیکي الفباهم لیکل شوی دی، دا کار د دې لپاره شوی چې لوستونکي یې د لوستلو پر مهال له ستونزو سره مخامخ نه شي او همدارنګه څېړونکو او مینه والو ته د څېړنې پر مهال اسانتیاوې برابرې شي.

د هېواد مرکزي ولایتونو او سیمو (کابل، پروان، کاپیسا، میدان وردک، غزني) کې د پښتو د مروجو لهجو په راټولولو کې څېړنوال محمد نبي صلاحي، څېړنوال محمد آصف احمدزی، څېړنپوه مولاجان تنیوال، څېړنوال سید نظیم سیدي، څېړنوال محمد حکیم تنیوال، څېړندوی رحیم الله حریفال، څېړنوال شهزاده توحیدمل، څېړندوی عبدالاحد منګل، څېړنوال وجیه الله شپون او څېړنوال زکریا ملاتړ کار کړی دی.

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د دغو پوهانو او څېړونکو د زیار ایستلو ستاینه او درناوی کوي.

په درنښت

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت